نجیب منلی

۲۰۱۵/۱۱/۱۰

## استاد بېلتون د ګور مېلمه شو



په هغه هېواد کې چې پېغلې او زلمي يې توتې توتې خاورو ته ځي، پر هغه خاوره چې ماشومان يې اول وريتېږي بيا خښېږي، پر هغه ځمکه چې ښځې يې تر تيږو لاندې مري او نوي زېږېدلي ماشومان يې سره ځيرل کېږي، د يو بوډا مړينه دومره فوق العاده خبره نه ده. خدای دې يې وبخښي. هو، خدای دې يې وبخښي، عمر يې خوړلی و. هيڅوک تل پر دې دنيا نه پايي. ښه خو دا چې د چا نوم په کې يادېږي.

او د بېلتون نوم به تل په کې يادېږي.

وروستی وار يې چې ليدلو ته ورغلی وم، د بهايي جان يو بيت يې را ته ووايه: د بېلتون په غږ کې ځکه اور پروت دی چې د بهايي جان ژبه يې په خوله کې ښوري.

خو دا هم رېښتيا ده چې د بېلتون او دوري له برکته د بهايي جان غږ هم پر ټوله دنيا خپور شو. شاعر او سندرغاړي د يو ملت د فرهنګ بېړۍ په دعا له توپانه ژغورله.

نن شپه به د افغانستان د تاريخ يوه بله پاڼه تر خاورو لاندې، د مني له يخنۍ بېغمه پرته وي. خو زموږ زړه به لږ څه لوټ شوی غوندې ښکاري.



تماس با ما برای ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ببلتون دې خدای وبخښي. د ببلتون ګوتې به بیا د تنبور پر غاړه ښکته پورته نه ځي، تارونه به نه لوبوي خو د ببلتون غږ به لا هم د ډېرو انسانانو د زړه تارونه وشرنګوي.

هرگز نمرد آن که دلش زنده شد به عشق

ثبت است بر جریدهٔ عالم دوام ما

د افغانستان د موسیقۍ غږ دې لوړ وي. د دې دردېدلي ولس هره سا دې سندریزه شي.



تماس با ما برای ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com